# مُسکا سنت ده

پښتو




شيخ طريقت، امير اهلسنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت بركاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

# مُسکي کيدل سنت دي

## دعائے عطار

يا رَبَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله '' مُسکي کيدل سنت دي'' اولولي يا واوري، هغوئ ته د خپل خوږ مُسکي کيدونکي د ټولو آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت په ورځ شفاعت نصيب کړې او جنَّتُ الفردوس کښې بے حسابه داخله نصيب کړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د قيامت په ورځ به ماته د ټولو نه زيات نزدې هغه څوک وي چا چې په ما باندې زيات درود شريف لوستلي وي.

(ترمذی، 27/2، حديث:484)

## د نيکئ دعوت ورکول صدقه ده

د حضرتِ سيِّدُنا ابوذَر غِفاری رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: ''د خپل (ديني) ورور سره په مُسکي کيدلو ميلاويدل ستاسو د پاره صدقه ده او د نيکئ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول صدقه ده-''

(ترمذی، 384/3، حديث:1963)

# د خبرو په وخت مُسکي کيدل سنت دي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! بيان شوي حديث مبارک کښې په مُسکي کيدلو سره ميلاويدلو، د نيکئ دعوت ورکولو او د بدو نه منع کولو ته صدقه وئيلے شوي ده-

سُبۡحٰنَ اللّٰه! مُسکي کيدل څومره ښه خبره ده! په مُسکي کيدلو ميلاويدل، په مُسکي کيدلو څوک پوهه کول عام طور د نيکئ د دعوت ديني کار ډير آسانوي او د حيرانيدونکو نتيجو سبب جوړيږي- آؤ! ستاسو معمولي مُسکي کيدل د چا زړه ګټي او د هغه د ګناهونو ډک ژوند کښې مدني انقلاب راوستے شي او د ميلاويدو په وخت مخ اړولو او بے پرواهئ سره يو خوا بل خوا کتل او لاس ميلاوهل د چا زړه ماتولو سبب ګرځيدے شي او هغه د ګمراهئ جورې کندې ته غورځولے شي، ځکه چې چا سره هم ميلاويږئ، خبرې کوئ نو د خپل وسه پورې مُسکي کيږئ. که چرې په بے پراهئ او هغه ته توجه نه ورکولو سره د ميلاويدو عادت وي نو په عاجزئ او په مُسکي کيدلو سره د ميلاويدو عادت جوړولو پوره کوشش اوکړئ، بلکه د مُسکي کيدلو عادت جوړولو د پاره د ضرورت په وخت د چا ذمه واري هم اولګوئ، که چرې د نورو سره د خبرو په وخت ستاسو تندے ترِو محسوس کړي نو وخت په وخت به تاسو ته يادوي يا تاسو ته داسې څه ليک درښائي: "د خبرو په وخت مُسکي کيدل سنت دي". آؤ جي! واقعي دا سنت دي. د مکتبةُ المَدينه کتاب "حُسنِ اَخلاق" (73 صفحات) په صَفحَه15 دي: حضرت سَيِّدَتُنا اُمِّ درداء رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهَا، د حضرت سيدنا ابو درداء رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ مُتَعَلِّق فرمائي چې هغوئي به هره خبره په مُسکي کيدلو کوله، کله چې

ما د هغوئي نه د دې په حقله پوښتنه اوکړه نو هغوئي جواب راکړو: "ما د الله پاك محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدلو چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خبرو په وخت مُسكي کيدلو". (مکارم الاخلاق للطبرانی، ص319، رقم: 21)

جسکی تسکیں سے روتے ہوئے ہنس پڑیں　　اُس تبسُّم کی عادت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش شریف، ص303)

شرحِ کلامِ رضا: په حدائقِ بخشش کښې شامل د "سلامِ رضا" د دې مصرعې "جس کی تسکین سے روتے ہوئے ہنس پڑیں" آخري لفظ "پڑیں" د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د مدني سوچ يوه عظيمه کارنامه ده. ځکه که چرې د "پڑیں" په ځائے "پڑے" ئې ليکلے وے نو معنٰی به يوې واقعې طرف ته اشاره کړلے کيدله! خو اعلیٰ حضرت د "پڑیں" ليکلو سره د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم صفت بيان کړو- د دې مصرعې معنٰی ده: په حياتِ ظاهري کښې خو به سکون ورکولو سره د غم زپلو زړونو غوټۍ پرانستے کيدلې خو نن هم سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله يو غم زپلي ته په خوب کښې يا يو غلام ته په قبر کښې تسلي ورکوي نو هغه ته سکون نصيب شي- په دې مصرع کښې دا هم اشاره ده چې د قيامت په ورځ به هم د خپلو ګنهګار اُمتيانو ته آرام او سکون ورکوي- د دويمې مصرعې معنٰی ده: په هغه سکون ورکوونکي عادتِ کريمه باندې ډير ډير سلام وي- حضرت مولانا سيد اختر الحامدي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په دې شعر څه ښکلے تضمين ترلے دے:

مُضطَرِب غم سے ہوتے ہُوئے ہنس پڑیں　　رنج سے جان کھوتے ہوئے ہنس پڑیں

بخت جاگ اٹھیں سوتے ہوئے ہنس پڑیں
جس کی تسکیں سے روتے ہوئے ہنس پڑیں

اُس تبسُّم کی عادت پہ لاکھوں سلام

صَلُّواعَلَی الْحَبِیب_ ؟؟؟_ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د لاس میلاوهلو په وخت مُسکي کیدل د بخښني سبب دے

یو روایت کښې دي چې سیدُنا نُفَیْع اَعۡمٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې د حضرتِ سیّدُنا بَرَاء بن عازِب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره زما ملاقات اوشو نو هغوئي زما د لاس اونیولو او زما سره ئي مُصافَحه اوکړله (یعني لاس ئي راسره میلاو کړل) او مُسکے شو، بیا ئي پوښتنه اوکړه: تا ته پته ده ما داسې ولے اوکړه؟ ما عرض اوکړو: نه. نو اوئې فرمائیل چې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره زما ملاقات اوشو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما سره هم داسې اوکړه. بیا ئي زما نه پوښتنه اوکړه: تا ته پته ده ما داسې ولے اوکړل؟ نو ما عرض اوکړو: نه. نو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کله چې دوه مسلمانان د ملاقات په وخت مُصافَحه اوکړي (یعني لاس میلاو کړي) او دواړه د الله پاک د رضا د پاره مُسکي شي نو د دوئي د جدا کیدو نه مخکښې دوئي اوبخښلے شي. (معجم اوسط، 5/366حدیث:7630)

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے
پھول رحمت کے جھڑیں گے ہم اٹھاتے جائیں گے

صَلُّواعَلَی الْحَبِیب_ ؟؟؟_ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د مُسکي کيدلو ښه او بد نيتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼږو! ذکر شوي حديثِ پاک کښې لفظ "د الله د رضا د پاره" ښه نيت ښائي- بهر حال د يو مسلمان سره لاس ميلاوهل او خبرو اترو په دوران کښې مُسکي کيدل صرف هغه حالت کښې د ثوابِ آخِرت او بخښنې سبب دے کله چې لاس ميلاوهل او مُسکي کيدل صرف د الله پاک د رضا حاصلولو په نيت وي- خپله عاجزي ښکاره کولو، د يو مالداره يا سياسي کس خوشحالولو، د دُنيا مذموم فائدو حاصلولو، ذاتي دوستي زياتولو او مَعَاذَالله د لاسونو لګولو او په جواب کښې د هغه د مُسکي کيدو په ذريعه د ګناهونو ډکې مزې اخستلو وغيره بد نيتونو سره نه وي. واقعي چې هغه اسلامي وروڼږه ډير نيک بخته دي څوک چې د الله د رضا حاصلولو، د خپلې بخښنې، د سنتو ثواب ګټلو، د مسلمان زړه خوشحالولو، انفرادي کوشش په ذريعه د اسلامي وروڼږه د نيك اعمالو عامل او د سنتو د تربيت مدني قافلو مسافر جوړولو وغيره د حالاتو مطابق په ښه ښه نيتونو د ملاقات او خبرو کولو سره مُسکي کيږي-

## په برق برق خندا د شيطان د طرف نه ده

په زوره زوره خندل مناسب نه دي ځکه چې دا سنت نه دي بلکه دا [سي خندل] خو د شيطان له طرف دي. څنګه چې د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: " اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللهِ يعني په برق

بړق خندل د شيطان له طرف نه دي او مُسكي كيدل د الله له طرف نه دي.“

(معجم صغير، 104/2، حديث:1053)

حضرتِ علّامه عبدُ الرَّءُوف مَناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د قهقهے نه مراد د آواز سره خندا ده، شيطان دا خوښوي او په هغه سوَريږي او د تبسُّم نه مراد د آواز نه بغير لږ شان مُسكي كيدل دي. (فيض القدير، 706/4، تحت الحديث:6196)

مشهور مُفسّرِ قرآن، حكيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: مُسكي كيدل ښه خيز دے (او) په زوره خندا بد خيز دے، مُسكي كيدل د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارك وو (لهٰذا) كله چې د چا سره ميلاويږئ نو په مُسكي كيدلو ميلاويږئ. (مرآة المناجيح، 14/7)

## په زوره خندا ګناه نه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ياد ساتئ! په زوره خندا د شيطان د طرف نه ده، بده هم ده او سنت هم نه ده خو ګناه نه ده- كه چرې څوک عالم صاحب يا بزرګ په زوره خندا اووينئ نو هغه ته په خپل زړه كښې چرې هم بد مه ګورئ.

## خاموشي زياته خندا كمه

رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زياته خاموشي اختياروونكے او كم مُسكي كيدونكے وو. (مسند امام احمد، 407/7، حديث:20853)

حافِظ ابنِ حجر رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د حديثونو مباركو راجمع كولو سره چې كومه خبره ښكاره شوي ده هغه دا ده چې رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عام طور د مُسكي كيدلو نه زيات نه خندل او كله چې به زياته شوه نو هغه به خندا وه او ظاهره دا ده چې هغه به په زوره خندا نه وه. (مواهب اللدنيه، 54/2)

## آيا صحابۇ به خندل؟

د حضرت سيدُنا ابنِ عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه پوښتنه اوكړے شوه چې آيا د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به خندل؟ اوئې فرمائيل: آؤ، او د هغوئي په زړونو كښې به ايمان د غرونو نه زيات مضبوط وو. (شرح السنة، 375/6)

مشهور مُفسّرِ قرآن، **حكيمُ الاُمَّت** حضرت مفتى احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: كيدے شي سوال (يعني پوښتنه) كوونكي هغه حديث اوريدلے وي، "زيات خندل زړه مړ كوي" نو هغه به سوچ كړے وي چې صحابه كرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) به چرې نه خندل (ځكه چې) هغوئي (خو) ژوندي زړونو والا وو بيا د خندا سره د هغوئي څه تعلق! (د سيدُنا ابنِ عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په "آؤ" كښې) د جواب (وركولو) مقصد دا دے چې خندا حرامه نه ده، حلاله ده، هغه حضراتو (يعني صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) به داسې نه خندل كوم چې زړونه مړه كړي يعني هر وخت خندل بلكه داسې به ئې خندل چې زړونه تازه اوساتي او مخامخ خلق هم خوشحاله جوړ كړي.

(مرآة المناجيح، 404/6)

## خوک په خندا اوينئ نو د ليدلو دُعا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کله چې خوک په خندا اووينئ نو په ”بخاري شريف“ کښې روايت شوي دا دعا لوستل پکار ده: اَضۡحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ (يعني الله پاک دې تا په خندا لري) (بخاری،123/4،حديث:6085)

## مبلغ دې د اعلان په ذريعه په جمات کښې د خندا نه منع کړي

په جمات کښې د موقعې په مناسبت سره خو د مُسکي کيدو اجازت شته خو د معمولي خندا يا په زوره د خندا اجازت نشته- که چرې په جمات کښې د بيان په دوران کښې داسې خبره راشي چې د هغې په وجه د ناستو خلقو د خندا امکان وي نو مبلغ له په کار دي چې هغه داسې اعلان اوکړي: توجُّه اوکړئ! اوس مونږه په جمات کښې يو او جمات کښې صرف د ضرورت په وخت د مُسکي کيدو اجازت دے يعني صرف د داسې خندا چې آواز هغه په خپله هم وا نه اوري، د آواز سره هيڅ کله مه خاندئ- د رسول الله صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”جمات کښې خندا قبر کښې تياره راولي“.

(جامع صغير ،ص322،حديث:5231)

## لمُونځ کښې د خندا احکام

د دعوتِ اسلامي د مکتبةُ المَدينه کتاب ”**نماز کے احکام**“ (496 صفحات) په صفحه 30 نه 31 پورې دي: (1) رُکوع او سُجود والا لمُونځ کښې که چرې بالغ په زوره اوخندل

يعني په دومره آواز سره ئې اوخندل چې نزدې خلقو واوريدل نو اودس هم مات شو او لمُونځ هم، که چرې دومره آواز سره ئې اوخندل چې صرف په خپله ئې واوريده نو لمُونځ ئې مات شو او اودس ئې باقي دے، د مُسكي كيدو سره نه لمُونځ ماتيږي او نه اودس. (مراقی الفلاح، ص91) په مُسكي كيدو كښې آواز بيخي نه وي صرف غاښونه ښكاره كيږي. (2) كه بالغ جنازه كښې په زوره اوخندل نو د جنازې لمُونځ ئې مات شو او اودس نه. (مراقی الفلاح، ص91) (3) د لمَانځه نه علاوه په زوره د خندا سره اودس نه ماتيږي خو بيا اودس كول مستحب دي. (مراقی الفلاح، ص84) زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم په زوره نه دي خندلي، مونږ له هم كوشش كول پكار دي چې دا (په زوره د نه خندلو) سنت هم ژوندے وي او مونږ په زوره زوره اونه خاندو.

## د مسلمان ورور د پاره مُسكي كيدل صدقه ده

د حضرت سيدُنا ابوذر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ستاسو د خپل ورور د پاره مُسكي كيدل هم "صدقه" ده، د نيكۍ حكم كول هم "صدقه" ده، د بدو نه منع كول هم "صدقه" ده، بے لارې شوي ته لار ښودل هم "صدقه" ده، د كمزوري نظر والا مدد كول هم "صدقه" ده، د لارې نه كانړي، ازغي او هډوكي لرې كول هم "صدقه" ده، د خپل ډول نه د خپل ورور په ډول كښې اوبه اچول هم "صدقه" ده. (ترمذی، 384/3، حديث: 1963) او يو روايت كښې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: هر قرض صدقه ده. (شعب الايمان، 284/3، حديث:3563)

## د مالي صدقې تعريف

عام طور چې کله لفظِ ”صدقه“ وئيلے کيږي نو ذهن ”خيرات“طرف ته ځي. بے شکه خيرات ته هم صدقه وئيلے شي، راځئ! چې د ”مالي صدقې“ تعريف معلوم کړو- د دعوتِ اسلامي مکتبةُ المَدينه کتاب ”ضيائے صدقات“ (415 صفحات) صفحه 32 نه 33 پورې دي: په لغت کښې د صدقې نه مراد عَطِيَّةٌ يُّرَادُبِهَا الْمَثُوبَةُ لَاالْمَكْرَمَةُ (المنجد) يعني ”صدقه“ هغه عطيه ده د کومې په ذريعه چې د خپل عزت زياتولو په ځائے د ثواب اراده اوکړے شي- (مطلب دا دے چې هغه عطيه (يعني انعام) ته صدقه وئيلے شي، د کومې د ورکولو مقصد چې خپل عزت زياتول او واه واه نه وي، صرف د ثواب په نيت ورکړے شوې وي) علامه سيد شريف جُرجاني حنفي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د صدقې تعريف په دې الفاظو بيان کړے دے: هِيَ الْعَطِيَّةُ تَبْتَغِيْ بِهَا الْمَثُوْبَةَ مِنَ اللهِ تَعَالٰى. يعني صدقه هغه عطيه ده کومه چې د الله پاک په بارګاه کښې د ثواب په اُمِّيد ورکړے شي.

(کتاب التعریفات، ص95)

صدقے اِس انعام کے قربان اِس اکرام کے
ہو رہی ہے دونوں عالم میں تمہاری واہ واہ

(حدائق بخشش، ص135)

شرحِ کلامِ رضا: اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په دې نعتيه شعر کښې فرمائي: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د الله پاک د دې انعام او اکرام نه زه زار شم چې هغه تاسو ټولو مخلوقاتو کښې د لوئ شان مالک کړئ او دا د هغه کرم دے چې دواړه جهانونو کښې ستاسو د عظمتونو او رفعتونو ستائينې کيږي-

سب سے اَولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی سب سے بالا و والا ہمارا نبی

(حدائقِ بخشش، ص138)

صَلُّواعَلَى الْحَبِيب_???_صَلَّى اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## دننه مرضونه يکدم ورک شو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په لمُونځونو او سنتو د عمل عادت جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، د نيک جوړيدو په نسخه د نيك اعمالو مطابق شپې ورځې تيروئ او خپل ځان د سنتو عامل جوړولو کوشش کوئ، د سنتو تربيت د پاره په مدني قافلو کښې د عاشقان رسول سره د سنتو ډک سفر اوکړئ- ستاسو د ترغيب د پاره په مدني قافله کښې د سفر په برکت په دننه مرضونو کښې اخته د يو مريض د ښه کيدو يو مدني سپرلے تاسو ته اوروم .د يو اسلامي ورور خه داسې بيان دے چې زه د څه مودې نه په بعضې دننه مرضونو کښې اخته شوے ووم- مرض دومره زيات وو چې اوده کيدم به هم نو په ازميبنت کښې به ووم- په علاج مې ډير رقم اولګولو خو بيا هم روغ نه شوم، زه د دې مرض نه تنګ راغلے ووم- ما چې کله واوريدل چې په مدني قافلو کښې دعاګانې قبليږي نو ما همت اوکړو او د سنتو د تربيت د مدني قافلے مسافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! مدني قافله کښې د سفر کولو په وخت ما دعا اوکړه او د هغې په برکت زما مرض داسې ختم شو چې هډو وو نه!

قلب پر زنگ ہو، قافِلے میں چلو، نفس سے جنگ ہو، قافِلے میں چلو

پاؤں میں لنگ ہو، قافِلے میں چلو، درد سے تنگ ہو، قافِلے میں چلو

صَلُّواعَلَی الْحَبِيب_؟؟؟_صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د دعا زر نه قبليدو نه مه ويريږئ

اَلْحَمْدُلِلّٰه! مدني قافله کښې د سنتو ډک سفر د شِفا سبب جوړ شو او ولې به نه جوړيدو چې د سفر په وخت او هغه هم د عاشقان رسول سره نزدې چې دعاګانې غوښتے شوي وې- د الله پاک د نيکانو بنده ګانو سره نزدې چې کومې دعاګانې اوغوښتے شي هغه نه رد کيږي- که چرې دعا زر قبوله نه شي نو مه ويريږئ او تادي مه کوئ- د دعوتِ اسلامي مکتبةُ المَدينه کتاب "فضائلِ دعا" (318 صفحات) په صفحه 97 دي: د دُعا قبليدو کښې تادي مه کوئ، حديث شريف کښې دي چې الله پاک د دريو کسانو دعا نه قبلوي- يو هغه چې د ګناه دُعا کوي، دويم هغه چې داسې خبره غواړي چې قَطعِ رَحم (يعني خپلولي ماتول پکښې) وي، او دريم هغه چې قبليدو کښې تادي کوي، چې ما دُعا کړې ده او اوسه پورې قبوله نه شوه- داسې کس اُويريږي او دُعا پريږدي او د مطلب نه محرومه پاتې شي.

## د دعا قبليدو نسخه

که يو مريض ته شِفا نه ميلاويږي نو اوّل خيرات اوکړئ بيا چې مکروه وخت نه وي نو

دوه ركعته نفل اوكړئ او په ژړا دُعا اوغواړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! دُعا به قبوله شي. په ”فضائلِ دُعا“ صفحه 59 نه 60 پورې دي: (د دعا قبليدو آدابو نه): ادب 5: د دُعا نه مخکښې څه نيک عمل اوکړئ چې د الله پاک رحمت هغه (دعا کوونکي) طرف ته مُتَوجّه شي. صدقه، خاص طور پټه، په دې امر کښې ښه اثر کوي (يعني په پټه خيرات کول دُعا قبليدو کښې ډير اثر لري) (په سيپاره 28 سورة المُجادله آيت نمبر 12 کښې دي:)

فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ
(پ28،المجادله:12)

[مفهوم] ترجمۀ کَنْزُ العِرْفان: د خپل عرض نه مخکښې څه صدقه ورکړئ.

(د دُعا نه مخکښې صدقه ورکول واجب نه دي، مُستحب دي) په صفحه 61 دي: ادب 9: که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته لمُونځ د زړه د اخلاصه اوکړئ چې دا جالبِ رحمت (يعني د رحمت سبب) دے او رحمت، موجِبِ نعمت دے- (12 وختونو کښې نفلونه کول منع دي. د دې 12 وختونو تفصيل د مکتبةُ المَدينه کتاب، فضائلِ دعا صفحه 61 نه 62 په حاشيه کښې اوګورئ)

## د خرابو شوو پښتورګو علاج اوشو

د کراچۍ يو ” شخصيت“ ته زيږ زيړے اوشو، خيټه ئې د اوبو ډکه شوه، پښتورګو ئې هم کار پريښودو، او بے هوشي پرې راغله، ډير غټ مالداره ګس وو او د مور پلار يو ځوئ او د هغوئي د بوډا والي ملاتړ هم وو، ډير خفه وو، 18 ډاکټرانو ئې مُعائنه اوکړه او ټولو لا

علاجه اوکړځولو، نولَّسم ډاکټر راغے، هغه د ده مور پلار ته اووئيل چې د علاج په طريقه کښې يو کمے دے او هغه تاسو پوره کولے شئ، زه اُمِّيد لرم چې الله پاک به رحم اوکړي- د خپل وَس مطابق څه صدقه يعني خيرات اوکړئ بيا دوه رکعته نفل اوکړئ او په ژړا ژړا دُعا اوکړئ- د خيرات، نوافلو او دعا طريقه شروع کړے شوه، مور و پلار ئې د دريو ورځو پورې په ژړا ژړا د خپل ځوئ د صحت د پاره سوالونه اوکړه، په دريمه ورځ ئې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ېختورګو کار شروع کړو، زيړے او د خيتې اوبه ئې په کميدو شوے او يوه هفته کښې دننه مريض بالکل روغ شو-

شفا دے الٰہی شفا دے الٰہی — گنہ کے مرض کو مٹا دے الٰہی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب_؟؟؟_صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دوه نشې

د حضرت سيدُنا مُعاذ بن جَبَل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بے شکه تاسو د خپل ربِ (کريم) له طرفه په دليل (يعني هدايت) يَئ تر څو پورې چې په تاسو کښې دوه نشې ظاهرې نه شي، يو د جهالت نشه او دويمه د دنيا د ژوند سره د مينې نشه- اوس خو تاسو د نيکئ حکم کوئ او د بدو نه منع کوئ او د الله پاک په لاره کښې جهاد کوئ (خو) چې کله په تاسو کښې د دنيا محبت پيدا شي نو تاسو به نه د نيکئ حکم کوئ او نه به د بدو نه منع کوئ او نه به د الله پاک په لاره کښې جهاد کوئ- بيا به هغه وخت د قرآن و سنت خبره کوونکے په مهاجرو او انصارو

کښېږي د ټولو نه اوّل ايمان راوړونکو په شان وي. (مجمع الزوائد، 533/7، حديث:12159)

## د تعليم يافته خلقو جهالتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! افسوس! اوس دا دواړه " مذمومي نشي" عامي دي. د جهالت نشه کښېږي نن صبا زمونږ زيات خلق اخته دي- شايد چې تاسو ګنړئ چې تعليم خو ښه عام شوے دے او ځائے په ځائے سکولونه او کالجونه دي- اوس جهالت چرته دے؟ بخښنه غواړم د دنيا تعليم د "جهالت" علاج نه دے. صحيح دا ده چې په اسلامي احکامو د فرض عُلومو حاصلولو سره د دين نه جهالت لرې کيدے شي- اوس ګنړ شمير مسلمانانو کښېږي د ضروري ديني معلوماتو ډير کمے دے- نن چې دُنيا کومو خلقو ته "تعليم يافته" وائي هغوئي کښېږي اکثر خلق صحيح قرآن مجيد نشي لوستے! دا جهالت نه دے نو څه دي؟ د "تعليم يافته خلقو" نه د اودس او غسل صحيح طريقه يا د لمَانځه د ارکانو تپوس اوکړئ، مشکله ده چې درته ئې اووائي، د دوئي نه د جنازې د دُعا تپوس اوکړئ، کيدے شي چې دوئي له نه ورځي! ډير افسوس دے! نن صبا د ډيرو مسلمانانو توجُّه صرف د دنيا تعليم طرف ته ده، په هر لور د دې مشهورتيا ده، ټول دولت او طاقت په دې لګولے شي، او د ديني تعليم اداري مفت تعليم ورکولو، مفت خوراک او مفت اوسيدو سهولتونه ورکولو باوجود شړې پرتې دي. يقينا دا ټولې "د دنيا د ژوند د نشو" په وجه دي.

مجھے دَر پہ پھر بُلا نا مَدَنی مدینے والے
مئے عشق بھی پِلا نا مَدَنی مدینے والے

(وسائلِ بخشش، ص283)

صَلُّواعَلَى الْحَبِيب_؟؟؟_صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## د مخكښينو په شان اجر

د حُضُور نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”بے شكه زما اُمَّت كښې به بعضې خلق داسې هم وي چاته چې به د مخكښينو (يعني د صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) په مِثَل اجر وركړے شي. يُنْكِرُوْنَ الْمُنْكَرَ هغوئي به د بدو نه منع كول كوي“.

(مسند امام احمد، 5/576، حديث:16592)

حضرت علامه مولانا عبدُ الرءوف مناوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديث پاک لاندې فرمائي: يعني الله پاک د مسلمانانو هغه قوم ته د كومو په ذريعه چې دين ته طاقت ميلاويږي، هغوئي ته به د صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په مِثَل ثواب وركړي.

(فيض القدير، 1/680، تحت الحديث:2485)

## يو مبلغ د يو صحابي برابر نه شي كيدے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د ذكر شوي روايت نه دې څوك دا اونه ګڼړي چې د بدو نه منع كوونكو مُبلِغينو ته به د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان برابري حاصله شي، هيڅ كله داسې نه ده، دا خبره منلے شوې ده چې صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته چې د صحابيت كوم شرف حاصل دے د هغې مقابله غير صحابي اُمَّتي ته ميلاويدونكے يو فضيلت هم نشي وركولے. د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: لَاتَسُبُّوْا اَصْحَابِي

فَلَوْ اَنَّ اَحَدَکُمْ اَنْفَقَ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ اَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيْفَهٗ يعني زما يو صحابي ته هم کنزلې مه کوئ که چرې تاسو کښې څوک د اُحد د غر همره سره زر هم خرچ کړي نو هغه د هغوئي يو يا نيم مُد ته هم نه رسي: (بخارى،2/522، حديث:3673) مُد يوه پيمانه ده کومه چې د دوو حجازي رَطل ده او رَطل تقريبًا نيم سير وي او يو غير صحابي کس د کروړونو نيکو کولو سره هم د يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرتبے ته نشي رسيدے څنګه چې د مکتبةُ المَدينه کتاب ''بہارِ شریعت'' جلد1 په صفحه 253 حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: ''که يو ولي هر څومره اوچتې مرتبې والا وي، د يو صحابي درجے ته نه رسي''. په صفحه 247 فرمائي: حديث کښې د سيدُنا اِمام مَهدي د ملګرو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) په حقله راغلي دي: ''هغوئي کښې د هر يو د پاره د 50 اجر دے، صحابۀ کرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) عرض اوکړو: هغوئي کښې د يو د 50 يا زمونږه؟ اوئي فرمائيل: بلکه ستاسو نه.''اجر د هغوئي (يعني سيدُنا امام مهدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ملګرو) زيات شو، خو غوره والي کښې هغوئي د صحابۀ کرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) برابر نشي کيدے، زيات کيدل خو لرې، چرته د امام مهدي (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) ملګرتيا او چرته د حُضُور سيدِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَحابِيَّت! د دې مثال داسې اوګڼړئ چې بادشاه د يو مهم (يعني جنګ) د پاره وزير او بعضې نور افسران اوليږل، د هغه (جنګ) په ګټلو ئې هر افسر ته يو يو لاکھ روپۍ انعام ورکړو او وزير ته ئې تش د خوشحالۍ زيرے ورکړو نو انعام هغه (افسرانو ته) زيات ميلاؤ شو، خو چرته هغه (يو يو لاکھ روپۍ ميلاويدونکي افسران) او چرته (د بادشاه د

خوشحالئ سند اخستونکي) وزير اعظم اِعزاز! [يعني د وزير اعزاز د يو يو لاکھ روپو نه ډير زيات دے] (بهارِ شريعت، 1/247.253)

د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان عظيم شان د حضرت سيدُنا امير مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په باره کښې د نقل شوو دې دوو حکايتونو نه معلوم کړئ: (1) د حضرتِ سيِّدُنا مُعَافَی بن عمران رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړے شوه: آيا حضرت سيدُنا عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حضرت امير مُعَاوِيَه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه ښه دے؟ نو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په جلال کښې راغلل او اوئې فرمائيل چې د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په صحابي باندې دې د يو (غير اصحابي) قياس اونکړے شي، حضرت امير مُعاوِيَه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د رسول انور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کاتبِ وحي او په وحي د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم امين دے.

(تاريخِ بغداد، 1/224، وتاريخ دمشق، 59/208)

(2) چا د حضرت سيدُنا عبد الله بن مبارَک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړه: حضرت سيدُنا امير مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ او حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کښې ثوک غوره دې؟ اوئې فرمائيل:"په الله پاک مې دې قسم وي! د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ملګرتيا کښې د حضرت امير مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د آس په پوزه کښې ننوتې دوړه د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه په زر چنده غوره ده." (فتاویٰ حديثيه، ص 401)

شيخُ الاسلام حضرت علامه ابنِ حَجر، هيتمي شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دويم نمبر حکايت وضاحت کوي او ليکي: د دې نه د حضرت سيدُنا عبد الله بن مبارَک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مراد دا

دے چي حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته د حُضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زيارت او صحبت کوم شرف حاصل دے د هغې سره برابر يو عمل يا شَرَف بالکل نشي کيدے.

(فتاویٰ حديثيه، ص 401)

ہم کواَصحابِ محبوبِ خدا سے پیار ہے ۔۔۔ اِن شاءَاللہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ___ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُسکي کيدلو حيرانيدونکي طبي فائدے

(د امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَۃ د کتاب د نيکئ دعوت مضمون دلته ختم شو)

☆ د انسان په مخ کښې 200 پوائنټس داسې دي د کومو نه چې مختلف ايکسپريشنز او جذبے مَثَلاً غصه، غم، پريشاني او پښيماني وغيره ظاهريږي او دا 200 پوائنټس په شريکه په مخ مختلف تاثرات ورکوي- مُسکي کيدل د مخ د پاره څان له يو کار دے چې د هغې په وجه دا 200 پوائنټس په حرکت کښې راځي.

☆ د چا چې د مُسکي کيدلو عادت نه وي د هغه د مخ ايکسپريشن ليس يعني د جذباتو نه خالي شي بلکه داسې اوګنړئ چې يخ شي-

☆ الله پاک په انساني بدن کښې چې د مرضونو سره د مقابلے د پاره کوم نظام ايښودے دے، هغې ته ايميون سسټم وئيلے شي، د مُسکي کيدلو سره د دې طاقت زياتيږي.

☆ ټينشن کمولو کښې مُسکي کيدل اهم کردار ادا کوي او دا په بلډ پريشر باندې فائده مند اثر غورځوي.

☆ د يوناني طب په کتاب کښې ساه لنډے کوم چې يو نه ختميدونکے مرض دے. وئيلے شوي دي چې دا تر قبره پورې ځي، مُسکي کيدل د ساه لنډې يو علاج ګرځولے شوے دے.

☆ چې کله يو کس خاندي نو د هغه د بدن نه اينډريو فائن نومې يو هارمون اوځي کوم چې د يو قدرتي درد ختموونکې دوا ده.

☆ يو تحقيق دے چې يو مُسکا د انسان دماغو ته د 2000 چاکليټ بار نه زيات حرکت ورکوي او ښه کوي ئې.

☆ د ټولو نه غټه خبره دا ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مُسکي کيدلو، دې باره کښې دوه احاديث مبارکه اوګورئ:

(1) حضرت عبد الله بن حرث رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات څوک مُسکي کيدونکے نه دے ليدلے. (ترمذی،542/5،حديث:227)

(2) د حضرت جرير رَضِىَ اللهُ عَنْهُ وينا ده چې د کله نه زه مسلمان شوے يم نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه نه يم منع کړے يعني چې څه مې ترې غوښتي دي را له ئې راکړي دي او کله چې ئې هم ماته کتلي دي نو په مُسکي کيدلو ئې کتلي دي. (ترمذی،542/5،حديث:230)

جس کی تسکیں سے روتے ہوئے ہنس پڑیں　　اُس تبسم کی عادت پہ لاکھوں سلام

لږ سوچ اوکړئ! که چرې تاسو کور کښې د هر کس سره په مُسکي کيدلو خبرې اوکړې، په لاره کښې د چا سره ملاقات وي او تاسو مُسکي شئ، جمات کښې د لمُونځ کوونکو سره په مُسکي کيدلو ملاقات اوکړئ نو ستاسو د زړه موسم او بهر موسم به خومره ښه شي! يقيناً د ښه ښه نيتونو د مسلمان وړور سره په مُسکي کيدلو ميلاويدل به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! هر خوا د مينې ډکه فضا جوړه شي۔

د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خدمت کښې وخت په وخت مختلف خلق د ملاقات د پاره حاضريږي او هغوئي د هر يو سره په مُسکي کيدلو ميلاويږي، دې باره کښې د هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي چې څه اوفرمائيل هغه اوګورئ:

## د مُسکي کيدلو ډالئ

سوال: د مُسکي کيدلو هم يو حد وي، آخر په دې هم انسان ستړے شي خو تاسو پرله پسې ليدلے شوي يئ چې تاسو د هر يو سره په مُسکي کيدلو ميلاويږئ نو آيا تاسو نه ستړي کيږئ؟

جواب: دا خو د مزاج مزاج خبره ده خو زه د کوشش کولو سره د خپل مزاج ښه کولو کوشش کووم او مُسکي کيدل کووم ځکه چې مُسکي کيدل سنت دي او د سنت په نِيَّت

مُسکي کيدلو کنبې هم ثواب دے- کله نا کله خو ما دا نوټ کړي دي چې پرله پسې د مُسکي کيدلو سره دلته (په مخ کنبې) معمولي درد هم محسوس شي خو زه په زور مُسکي کيدل کووم ځکه چې حديثِ پاک کنبې دي چې د مومن مخې ته مُسکي کيدل هم صدقه ده. (ترمذی،384/3،حديث:1963) خوک غريب چې ماته ډير په ګرانه را اورسي. څه پته چې زما په مُسکي کيدلو د هغه زړه خوشحاله شي- کوم غريب چې دوه ګهنټے په قطار کنبې اودريدلے وي او د هغې نه وروستو ئې نمبر راغلے وي، زه هغه له نور څه ور نکړم نو آيا د مُسکي کيدلو يوه ډالئ هم ورنکړم؟ که چرې زه هغه ته په مُسکي کيدلو اوګورم او د مَا شَآءَاللّٰه! وئيلو سره ئې په ملا اُوټپووم او په سر ورله لاس راښکاږم نو په دي به د هغه زړه ته خوشحالي اورسي. (امیرِ اہلِ سنت کی کہانی انہی کی زبانی، قسط 11)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتونو د تربِيَّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښار ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره به "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com